# د خلیل جبران

# غوره خبرې

له الماني څخه پښتو ته:

ډاکتر ماخان میړی شینواری

خپرونکی: کتابتون.کوم
د شمشاد زهیر خپرونه

بریښنا پته: smakhan1946@gmail.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه:

دې کتاب ته خو د سریزې اړتیا نه شته. زهبهدومره چې دا کتاب له انګرېزي یا عربي ژباړل شوی دی، نو له دې امله، ې کتاب له څو ژبو وپاړل شي یو ډول نه یو ډول یې هغه خوندیونې داسې د اروالي سرهداسې څه توپیر کوي.

دا کتاب چې ما له الماني ژبې څخه را ژبال، هم کېدی شي ځنې وییونه مې هغسې موخه ور نه وي ژباړلي، خو په هرتیب پرې پوهېدل کېدی شي.

پخپله په متن کې هم یو ډول ستونځې لیدل کیږي، چې هغه به فلسفي پیداښتي وي، چې ستونځې ممکن پېښې کړي.

د کتاب خوندیونو کې ما هیڅدول ګوتوهنهنهده کړې، تر شونې پولې پورې مې د هغه الماني خوندویونې اروالی ساتلی، داپه دې پربپوهېدنه، چې په خوندیونه کې په هېڅ دول تخریب منځ ته نه دئ راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوي ښتن په نامه

-- که څوک وايي، چې ارواح له تن سره
يوځای ورکيږي او دا چې يو ځل مړه
دي، هيڅ کله بيا نه راځي، نو هغه ته
ووايې: ګلان ورکيږي، مګر زړي يې
پاتيږي او د موږ مخ ته پراته ، ډک له
پټونې، لکه د ژوند تلوالی.

-- ته کړی شې خپلو بچيانو ته ستا وينه
ورکړې، خو نه ستا فکر، هغوي خپل
لري.

-- درد توانمنده اروا منځ ته راوړه. دا ټول
توانمند خويونه د پرهارونو ډک دی.

-- د بل کس په زړه او فکر چې پوه شې،
دې ته مه ګوره، چې هغه څه ته رسېدل
دی، بلکه هغه څه پسې هڅيږي.

-- څه چې وايم، د هغې نيمه برخه د پوهېدلو
نه دي، خو زه دا داسې وايم، چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله نیمه يې تانه  در رسېدلې ده.

-- که بچیان دې کوچني وي، هغوي ته ریښې
وبخښې، که هغوي لوي شو، نو هغوي ته
وزر وبخښه.

-- که ته غمګین وې، نو زړه ته دې وګوره
او ته به وګورې چې ته په هغه پسې ژاړې،
څه چې درته خوښي پېښوي.

-- که چېرې تاسو خپل تعجب د خپل ژوند
په ټولو معجزو ساتلی شوی، نو ستاسو
درد به لږ د تعجب وی و ستاسو خوښۍ
ته. نو بیا به ستاسو د زړه څلور فصلونه
داسې ونیسي، لکه تاسو چې څلور کلني
فصلونه نیسۍ، چې ستاسو په کروندو
راځي.

-- ناهیلي او بې باوري یو درد دی، چې هغه
ډېر ځانله دی، په دې پوه شي، چې  باور د
هغه غبرګونی ورور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- تربیه تاسو کې تخم نه کري، بلکه له

تاسو تخم شني

-- په خوبونو مو باور وکړئ، ځکه چې

هغه و تلوالي ته پټه دړه (دروازه) ده.

-- که مینه سترګک درته وهي، نو پسې

لاړ شه، د هغې لارې هم سختې او په

زوړي دي. او که د هغې وزر دې پټوي،

نو ځان ورپرېږده، که څه هم بڼکو کلکې

او تا زخمي کولی شي. او که هغه تاته

خبرې کوي، باور په ولره، که د هغې غږ

هم هغه ستا خوبونه کډوډولی شي لکه د

شمال باد دې چې باغ بېدیاکوي.

-- خپل راز باد ته ووایه، مګر بیا ګیله ترې مه

کوه، که ونو ته یې ووایې.

-- د یوې هوښیارتیا سره، چې اوښکې نه

پېژني، د یوې فلسفې سره، چې په خندا نه

پوهیږي، او له یوې لویې سره، چې کوچنیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته سر نه ته‌یتوي، نه غواړ سروکار ولرم.

-- د یوه بل انسان ربښتیاوالی په دې کې نه دی
نغښتی، چې هغه تاته څه شی وایي، خو هغه
په دې کې نغښتی، چې هغه څه شی تا ته نه
شي څرګندولی یا ویلی. که ته هغه له دې امله
پوهېدل غواړې، هغه مه اوره، چې هغه تاته څه
وایي، خو زیات یې په هغه څه، څه چې هغه له
تا څخه پټوي.

-- ته کړی شې کوچنیانو ته ستا مینه
ورکړې، خو نه ستا فکر، ځکه چې
هغوي خپل فکر لري.

-- چې ځان کډوډ حس کړې، د پوهېدنې
پیل دی.

-- رڼا او سیوری سړی باید د شپې لاړ
شي، که سړی غواړي د سهار رڼاو
ګوري.

-- څه شی چې په کوچنیتوب کې چاته ګران

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، هغه د زړه په خاوندوالي کې پاتې
کيږي تر پاخه زړښته پورې. په ژوند
کې هغه ډېر ښکلی دی، چې دموږ اروا
موږ نه پرېږدي، چې هغو ځايونو ته لاړ
نه شو، چې موږ يو ځل نېکمرغه وو.

-- يو بل سره مينه ولرئ، خومه
پرېږدئ، چې مينه مو په پړي وتړئ:
دا پرېږدئ چې دا  يوې او بلې خواته
خوزنده بحيره وي، چې د غاړو په منځ
کې يوې او بلې خواته خوزي. زړه مو
 په بله ساتنه کې مه ورکوئ، ځکه چې
يواځې د زړه لاسونه کړی شي ستاسو
زړونه راونيسي. او يوځای ودرېږئ،
خو نه داسې نږدې: ځکه د معبد ستنې
د ځان لپاره ولاړې دي او ځېړی او
ليمو د بل د سيوري لاندې نه لوييږي.

-- ته هغه موزيک يې، چې د ما خوبونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لامبې، نرم فکرونه، چې نه رانیول کیږي.

-- که غواړې د یوه انسان په زړه او اند پوه شې، نو دې ته مه ګوره چې هغه څه ته رسیلی، خو هغه څه پسې د لیدو تګی دی.

-- هېرول د ازادۍ یوه بڼه ده.

-- که ته د هغه څه پوهېدلو، چې غواړې پرې پوه شې، پای ته ورسیږې، ته د هغه څه په پیل کې یې، چې غواړې حس یې کړې.

-- دا یوه فیلوسوف، د کوڅې یوه پاکونکي ته وویل: زه درسره زړه بدی یم. ورځنی کار دې چټل او سخت دی. او د کوڅې پاکونکي ورته وویل: ښاغلیه! ډېره مننه. ماته خو ووایه، چې ته څه کار کوې؟ او فیلوسوف ځواب ورکړ: دنده مې د انسان د اروا زدکړه ده، د هغې کړه وړه او د هغې غوښتې. پسې د کوڅې پاکونی کوڅه پاکوي او ترې روان شو او په موسکا یې وویل: زه په تا هم خواشینی شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- موږ به اورچینجي ته هم په هم داسې
درنښت کتلی لکه لمر ته، که موږ د موږ
په اند کې د دروندوالي او کتلې پورې نه
وی تړلي.

-- په مالګه کې باید داسې ورسره نابلد مقدس څه
وي: سړی دا دموږ په اوښکو او بحر کې میندي.

-- ونې شعرونه دي، چې ځمکه یې په
هسک کې لیکي، موږ یې وهو او په
کاغذ یې بدلوو، چې دموږ تشیا په
ولیکو.

-- لکه څنګه چې تا مینه تاجور کوي، همهغسې
تا وژني. او باور مه لره چې د مینې تګ لور
به وګرځوې، ځکه چې مینه که تا خپل سیال
وبولې، ستا تګ لورګرځوي. یو بل سره مینه
ولرئ، خو مینه د یو بل ځولنې مه کوئ:
پرېږدئ چې داستاسو په منځ کې لکه بحرونه
یوې او بلې څنډې ته وخوځېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- ښکلا ستا په برېښېدنې کې نه ده. ښکلا
په زړه کې یوه رڼا ده.

-- تاسو په خپل تن کې رابند نه یاستئ، هم
په خپلو پټیو او کورونو پورې تړلي. دا
ځل چې تاسو یاستئ، په غره اوسیږي او له
باد سره مو وړي.

-- باور په زړه کې یوه بېدیا ده، چې د فکر
کاروان ورته نه شي رسېدلی.

-- ژوند او مرګ سره یو دي، لکه سیند او
بحر سره یو دي. خپلو خوبونو باندې باور
ولره، ځکه چې په هغه کې و تلوالي ته مرګ
نغښتی دی.

-- شیخ( هغه څوک، چې تل عبادت کوي) هغه
څوک دی، چې په ځمکه یې هرڅه ازمایلي
او د ځمکې د هر څه مخامخ تمبه شوی.

-- ستا درد د هغه پوخ( پوټکي) ماتول دي،
چې ستا له پوهې څخه راتاو شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- له هغه مې ازاد کړه، چې رښتیا بې له
درده وایي، له هغه څخه، چې ځان ښه
نیسي، خو نیت یې بد وي، او له هغه
څخه، چې ځان ته پخپله درنښت پیداکوي،
په دې کې چې د نورو ناسمونونه پیدا کړي.

-- یوه ونه چې په سمڅ کې لوییږي، میوه نه
نیسي.

-- په یادلرنه د کتنې یوه بڼه، هېرونه د
ازادۍ یوه بڼه.

-- ښه ده، چې د یوه په سوال کولو څه ورکړې،
خو خوراښه ده، چې د هغه د اړتیا د پېژندنې
له امله بې له سوال څخه څه ورکړي.

-- د ما د تګ په وخت کې د خواشینۍ څه
مه وایه، سترګې پټې کړه، نو ته به ستا-
سو په منځ کې ما وګورې

-- د لمر خاته سره ګیدړ خپل سیورى ګوري
او وایي: نن غرمه به زه یو اوښ تېروم. ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار د اوبښ پسې ګرځي. غرمه بېرته خپل
سیوري ته ګوري او وایي: یو مورک به هم
بسیا وکړي.

-- ته پخپله د ځان بندیز یې. هغه دیوال،
چې تا جوړ کړی، هغه یواځې ستا د خورا
لوي زه لپاره د بنسټ تیګه ده. او دا زه له
خپلې لور یواځې یو بنسټ دی. له تل څخه
موږ د موږ خپل بندیزون یو او دا به تل
وو. دموږ کښت له پرون څخه او دموږ
کښت له سبا څخه یواځې د پټي لپاره تخم
دی، چې دابه لا کرل کیږی. موږ په همدې
وخت کې بزګر یو او کروندګر( چې تخم
شیندی یا تخمشیندی)، ریبونکی او غله.

-- او هغه، چې هغه د ژوند د ناخوښیوناوړه
پیښو معجزو ملایکه او شیطان نه وی لیدل،
د هغه زړه بې پوهېدنې او د هغه اروا بې تفا-
همه پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- هغه کسان څومره بد دي، چې باور لري،
چې مینه د اوږده یوځای پاتې کېدو میوه ده
او د تل یوځایوالي څخه راوځي. مینه له دې
زیاته د اروا د تفاهم لور ده. او که دا تفاهم
په یوه سترګورپ کې را پیدا یا راپورته نه
شي، نو دا به نه په کال او نه په سلونه
کلونو کې راپیداشي.

-- د یو انسان په زړه کې ښکلا د درنښت ده،
و هغې ته، چې سرې یې د سترګو رپ کې
ګوري.

-- که تیاره در څخه را تاو شي، وایه: تیاره
یواځې د سهاري رڼا داغ دی، چې دې ته ډیل
کوي وزېږېږي: او که پخپله د شپې زوربدنه په
ما بار شي، سهار به زېږېدلی وي، پر ما او پر
غونډیو باندې .

-- یو شاعر هغه دی، کوم چې د شعر په ویلو
وروپېژني، چې تر اوسه پورې یې لا خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه بیتونه نه دی لیکلي.

-- د زړه میلان داسې وېشل شوی، لکه د نښتر ځانګې. که یوه ونه یوه ځواکمه ځانګه له لاسه ورکړي، نو دابه وزوریږي، مګر دا نه مري، دا به خپل ټول توان دې بلې ځانګې ته ور بهوي، داسې چې دا لویي شي او دا تشیاوې یا کندوونه ډک کړي.

-- مینه خپله ژورتیا د بېلتون تر ساعته پورې نه پېژني.

-- کیشپ کړی شي له کوځې څخه ډېر څه درته ووایې و هوسۍ ته.

-- دا پټه خوله مې له خبرلوځو زدکړې، دا سړه سینه له ترورو، مینه ناکي مې له بدخویو.
او سره له دې له دې ښونکو منندوي نه یم.

-- دا ناز او مهرباني ناتوانۍ او ناهیلۍ ته نه وایي، دا د توان او د کلک نیت نخښې دي.

-- دا انسانانو ته د خدای(ج) خورا ستر سوغات

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې د مینې لرلو توان ولري، ځکه چې
دا مینه داسې دعا ده، چې له چا څخه نه شي
اخستل کېدی.

-- هغه په رېښتیا عادل دی، چې تل د نورو په
بد کړنو کې ځان نیم ملامت بولې.

-- هغه چې تا ورسره خندلي، نه هغه، چې
تا ورسره ژړلي.
-- څنګه دي د ژوند په عدالت عقیده له لاسه
ورکړو، ځکه چې د هغو خوبونه، کوم چې په
پستو بڼکو په کټ کې څملي، داسې ښکلي نه
وي، لکه په ځمکه چې څملي.
-- د زړه له کومې په غلامانو– ډک له هیلو-
یو خیالیخوبي یم و هغو ښاغلو ته چې بې له
خیالي خوبونو او ناهیلو.
-- دا ژوند د هغه چاپاره څومره ستونځمن
دی، چې مینه غواړي او درد یې پهبرخه شي.
-- په خبلو خوبونو باور وکړی، ځکهچې
ستاسې تلوالی پهکې نغښتی.
-- د هر ژمې په زړه کې د پسرلې یو زړی
پروت دی او د هرې شپې د زړوکي شاته یو
د خندا ډک سهار.
--- مینه د رڼا ویې ( لغات) دی.

-- که ( د غره) څوکې ته رسېدلی وې، نو زوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې راځي.

-- نرمي او مهرباني د ناتوانۍ او نا هيلۍ ويېنه
نه ده، خو دا د توانمندۍ او پرېکندوالي نخښه ده.

-- موږ تل له راتلونکې څخه پوروو، چې د
تېر وخت پورونه پرې باندې پرې کړو

-- خورا ژور هغه لويږي، چې څوک خوبونه
په سرو - يا په سپينو زرو پوښي.

-- زه په مينه غواړم، چې له هغو کمو کسانو
وم، د خوبونو غوښتنو سره، چې هغه
پوره کړم، و هغو ته چې خورا لوي وي،
بې له خوبونو او غوښتنو ياهيلو.

-- لکه څنګه چې زړي ( دانې)، د واورو
برستن لانې خوبون ګوري، همداسې
د موږ زړونه له پسرلي خوبونه ګوري.

-- ستاسې کور ستاسې خورا لوي خپل تن دی.

-- مينه څه په واک کې نه لري او د چا په
واکوالي کې هم نه غواړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- ستاسې ملګري ستاسو د بیالیدنې هیلو ته

ځواب دی.

-- خوښي یو اورغورځونی غر دی، چې د هغه

په کراتر یا ګټو اوایرو کې وابنه نه شنه کیږي.

-- که دا زړه، چې و تا ته ګران دی، نه وای،

نو ته به یو نازک ګرد وی، چې باد یې

ورڅخه وړي.

-- که ته غواړي په رښتیا سترګې پرانیزې

او وګورې، ته به په ټولو څېرو کې و تا ته

ورته څېرې وګورې. او که غوږونه دې

پرانیزې او واورې، نو ته به په ټولو غږونو

کې ستا خپل غږ واورې.

-- مادي نړۍ او هر څه چې ور پورې اړه

لري، یواځې یو خوب دی و ویښیدو ته په

پرتله، هغه چې موږ یې ،،د مرګ ډار،،

بولو.

-- رېښتیاوالی تل باید همدا اوس وي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله وویل شي.

-- ستاسې په منځ کې یو دبل سره ځای

پربېږدی، چې د اسمان سا مو په منځ کې

د لوبو ځای ولري.

-- په پیداېښت کې جنجال یواځې یوه ګډوډي ده،

چې په نظم پسې سترګې به لار دي.

--ځنې کسان به ګومان وکړي، چې زه

ورته سترګک وهم، چې زه سترګې پټې

کړم، چې مخ یې ونه ګورم

-- سړی یواځې خپل سیوری کتلی شي،

که شا و لمر ته کړي.

-- د لویې وچې سندره د غاړې سره پای

مومي او یا د هغه چا زړونو کې چې

هغوي رانیسي

-- ماته غوږونه راکړه، زه به غږ درکړم.

-- په دې نړۍ کې لومړی شاعر به ډېر بد

دردېدلی وي، چې لینده او غشی یې ښنګ

ته ایښي وي اوازمایلې به یې وي، چې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري ته روښانه کړي، چې به په زړه کې
څه حس کړي وي، چې هغه د په بوړنونکي
درنښت د شپې تیاره مخ ته ګوري.
-- ته پهاند یې ، چې دشیانو شتون باندې پو هېدی
شې، په دې چې د هغوي موخه لټې؟
کړی شې، چې ته د انګورو په ګلونو څه ووایې،
که ته په خم یا کندولي کې وګورې؟
-- مینه چې تل بیا نه نوې کیږي، تل مرې
-- که دوه برابرو یا همهغو انسانانو شتون لرودی،
نړۍ به پوره لویه نه وی، چې دواړو ته ځای
ورکړي.
-- خدای(ج) ډېر ې دړې پیداکړي، چې حقیقت
ته مو بیایي او دا ټولې هغه ته وازوي، چې
هغوي د عقیدې په لاسونو هغه ټکوي.
-- د نن ورځې د زورېدنې لوي جنجال د پرون
ورځې د خوښۍ په یاد کې پروت دی.
-- مینه لړزانده بخت دی.
-- خوښې ستاسو لوڅ شوی درد دی.
-- هېڅ وخت ماد بل خپل (ځان) سره پوره
نه دی زغملی. هغه بنسټیز لامل یې دموږ
منځ کې پروتدی.
-- سپما اصل دی- یواځې د خسیسغاړو سره نه.
-- سړی او ښځه دې ځانخوړونه او درځونه
په خپل منځ کې واز پرېږدي چې د هسک
باد د هغو په منځکې ننوتلی شي.
-- د انسانانو په منځ کې داسې وژونکي شته،
چې تراوسه یې یو څاڅکی وینه هم نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تویه کړي، غله، چې تراوسه یې غلا نه ده
کړې، او درواغزن، چې تر اوسه پورې یې
ریښتیا ویلي.
-- یواځې یو خل یې زه ګونګ کړم. دا هغه
ځل وو، چې له مایې وپوښتل: ته څوک یې؟
-- ریښتیا د توکل خور ده، خو شننه او پرې
خبرې کول انسانان له هغې لرې ساتي.
-- ځنې یې له غوړونو سره اورې، نور یې له
ګېډې سره او بیا نور یې د هغه دپیسو بټوې
سره، خو ځنې یې بېخي نه اوري.
-- اړتیا کړی شي ځان غتښونه پټه کړي
او د غربت درد پټولو پسې وګرځي.
-- د ځوانۍ اوښکې د ګلابو په ګلانو د شپېنم
څاڅکي دي، په داسې حال کې چې په یوه زاړه
مخ د مني زیړو پاڼو ته ورته دي، هغه چې باد
یې خورې کړي او یو یې سي، چې د ژوند ژمې
یې رانږدې شي.
-- د پسرلي ګلان د ژمي خوبونه دی.
-- چې وپېژني، د انسان ستاینه د ونې میوې ته ورته
ده، بلل کیږي، چې د ژوند یووالی درک کړي.
-- د ژوند ساوبستنه په لمررڼا کې ده او د
ژوند لاس په باد کې دی.
-- هغه سړی چېرته مومم، چې د بنه لید څخه
لاربنودیږي و شوق او عادت ته؟
-- لږ پوهه، که په پوره توان وکارول شي،
ناپای زیات ارزښت لري، و لویې پوهې
ته چې بې کاره پرته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



--څوک چې فلسفي خبرې کوي، یوې
هنداري سره برابر دی، چې شیان بېرته
هنداره کوي،هغه چې نه غواړي و یې ګوري،
او هغې سمڅې ته ورته دي، کومه چې غبږ ،
چې نه اورېدل یې زړه وي، د انګېزې په څېر
یې بېرته غورځوي.

-- لکه څنګه چې د تن او اروا په منځ کې
ترنه شته، همداسې بدن د چاپېریال یو له
بل سره ترلی دی.

-- یو مرغه غواړي هوا ته پورته شي، که
پخپله په سره زرزرېزه پنجره کې هم بند
وي. یو سین خپله لار بحر ته کني، که هغه
ته بندونه هم جوړ شوي وي. دما زړه ستا نوم
ته چغې وهي، که ته به دما نوم هېر هم کړې.

-- زړه سوی نیم حقیېژندنه هم ده.

--له تلنناروغیو سړی پوره ډارېږي او لړځېږي،
خو د الکساندر او ناپولیون نومونه چې هر څه
یې وران کړي، په پوره درنښت یادوي.

-- شعر باندې باید پوره وپوهېږې. دابه سړی
هغه ته څنګه روښانه کړي، چې هغه په یوه
برخه هم نه پوهېږي؟

-- هغه هیواد ته بدبختي راولي، چې یوه دانه تخم
یې هم نه وي کرلی، یوه بښت تیږه یې نه وي
اینښودلي، یو جوړ کالي یې نه وي اوبدلي، مګر
د پولیتیک له لارې هر څه په واک کې راوړي.

-- د ژوند پیل په ماده کې نه دئ او پای یې
په ګور کې نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- دا لیدوړ لومړی تل هلته لیدلکیږي، چې
له هغې څخه وروسته په ساده ویونو
راغونډ شي.

-- څه چې تا ته بدرنګه بریښي، دا هغه څه
نه دی، چې هېڅ کله تا نه دي ازمایلي چې
ور ورسیږې او په موخه یې پوه شې او هیڅ
کله دې نه غوښتل؟

-- که خورا بدرنګه شته وي، نو دا دموږ
په سترګو پردې دي او دا موم ، چې
غوږونه مو بندوي. دما ملګری، بدرنګه
مه بوله پرته ستا د اروا د ډار په پام لرنې
سره د هغه خپله یادونه.

-- له دوه اصلي ګټو، ښکلا او ریښینوالي مې
ومیندل چې لومړی په مینه ناکو زړونو او دا
دویم د یوه ساده کارګر په لاس کې دی.

-- د ما له ځانلوالي پرته هه خوا یو بل
ځانله والی پروت دی، او هغه څوک
چې په هغ کې اوسیږي، هغه دماځانله
والی داسې ګوري لکه د اوسېدونکی
بازار او د ماچپتیا لکه د غږونوجګ
بنګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- که موږ يوې موخې ته رسېدل په پام کې

ونيسو، نو هغه ستونځمنه لار ، چې موږ

ورسره مخامخ کيږو، هغه ته هغه لنډه لار ده.

-- څه چې موږ په ځنو کسانو کې زيرکتيا بولو،

هغه يواځې ستا د فکر يوه ځاييزه يا ځای

اړونده لنډه لمبه ده.

-- زياتکول يا افراط يوه رېښتيا ده، چې ستاسو

سړه سينه يې بايللې.

-- دا ژوند د هغه چا لپاره ستونځمن دی، چې

هغه ځان ته مرګ غواړي، خو د هغه خپلوان

او ملګري د پسې ژوند کولو له امله.

-- ته به غواړې هغه هېر کړې، لهخو سره

دې چې خندلي، او هيح کلههغه نه، چې د

هغو سره دې ژړلي.

-- ژوند مو په غمبورو مچوي سهار او د

روځې، خو د موږ په کړنو له غرمې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د شپې خاندي.

-- کېدی شي ګور کې د انسانانو منځ کې ښخول

د ملایکو لپاره د واده مېله وي.

-- که غریب وې، نو له هغو خلکو لرې

ګرځه، چې د بډایو په کچیوون کچوي.

-- د اروا په منخ کې پټیاوې ( خفیه ) شته،

چې هېڅ اند نه ځرګندوي او هېڅ ګومان

خوندې نه لري.

-- شپه نم ته مې کاته، د بحیرې پټیاوې مې

ومیندلې.

-- دا د انسانانو تاریخ دی: زېږېدنه، واده،

مرګ، زېږېدنه، واده، مرګ، خو سملاسې

یو سرزوری راپاځېږي او تاسو ته د یوې

بلې نړۍ خبرې کوي، چې د هغې روښانه

شوي وګړي د هغو په خوبونو کې ډېر څه

ګوري و یواځې زېږېدنې، واده، مرګ ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- چې جګړ په زور کې وي، څوک د

ويالې بهېدنلور په پام کې نه نيسي؟

-- ښه ليدی ګلاب ګوري، خو نه د هغه اغري

-- مينان هغه څه په غېږ کې نيسي، چې هغه

يې په منځکې وي، نه هغه چې ببلوي يې.

-- ما يوه مور او يو پلار لټاوه او شپه او بحيره مې وميندل

-- انسان هيڅ کله يو څه منځ ته نه راوړي،

هغه يې يو اځې ميندي.

-- څورمه ببځايه ده، چې د يوه جوړښت

يولور ته يوه تيږه ږدې او له بلې لور يې

ديوالونه نړوې.

-- ستاسو پهمنځکې يوه تشيا پرېږدی.

-- په ځمکه هر انسان د ټولو باچيانو او

غلامانو اولاد دی، چې تر اوسه پورې

يې ژوند کړی دی.

-- زه د هغو سره زړه سوی لرم، چې د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډې او ژبه د ستاینې ویې سره خصیص
یا خسیس(؟) وي، په داسې حال کې چې د
سوال لاسونه یې غزولي وي.

-- خدای(ج) ته نږدې په دې پرېپوهېدنه دی،
چې انسانانو ته نږدې وي.

-- لنډلیدی هغه دی، چې هغه یواځې هغه ته
ګوري، پهکومه چې هغه ځي، او په دیوال،
په کوم چې هغه تکیه وهلې ده.

-- که د دین موخه بدل یا انتقام وی، که
هیواد پالنه د ځان ګټې لپاره وی او که
روزنه یواځې د پرمختګ ملاتړ کولی،
نو زه به بیا د زړه له کومې بې عقېدې، بې
وطنه او یو بې غوښتنو ناپوه وم.

-- هرکله چې ته د تعقیب یا څارنې لاندې یې، تهبه چټک شې.

-- هرڅومره چې څوک ډېر سوغاتونه ورکوي،
همغومره لږ. ملګري لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- شپې تېرېږي او موږ بې پامه ژوند کوو،
او ورځې موږ ته سلام اچوي او غېږ کې
مو نیسي. موږ مګر د شپې او ورځې
څخه په تل ډار کې ژوند کوو.

-- که د موږ ځانیزه ګټه په پام کې وي، موږ
کارنده جوړ یو، خو موږ ځانونه ماده خوښې
نه یو، که د نورو ګټه په پام کې وي.

-- که ته په بدبختۍ کې له خپلو ګاونډیانو
زړه سوی غواړې، نو هغو ته ستا د زړه
یوه ټوټه ورکړه. که یو ښه ګاونډی وي،
هغه به مننه وکړي، او که یو سختزړی
ګاونډی وي، نو تا به وشړي.

-- هر څه باندې پوهېدل نارسېدوني دي. او
ټول کار بېځایه دی بې له مینې.

-- شاعري نظر نه دی، چې سړی یې
څرګندولی شي. دا یوه سندره ده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له وينوډک زخم يا له خندا ډکې خولې

راوزي.

-- که څوک بد نيت لري، هغه لنډ خپلې موخې

ته د مخه لويږي.

-- د اوبو ټيټېدنې په وخت کې مې په شګو يو

څو کربنې وليکلې، چې هغه هر څه، چې

دما فکر او پوهې خوندي لرل. د څپو په

وخت کې غاړې ته ورغلم، چې هغه

وييونه ولولم، او ما په غاړه څه ونه

ميدنل، پرته دما د ناپوهوالي.

-- که څوک تا ته ستا نه کړلې ګوناه بخښي،

هغه ځان بخښي او خپله بدکاري.

-- ډېردرسونه داسې دي، لکه د کړکۍ ښيښه.

له هغې څخه مونږ رېښتيا ليدی شو، خو

هغه مو له حقيقت بېلوي.

-- زه به د هغه په هکله څه ووايم، چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وهي، که زه هغه په غمبوري ښکل کړم،

او هغه د ما پېښې ښکل کړي، درنګ مهال

چې زه هغه ووهم.

-- يوائځې هغه ستا خورابنه چې لرئ ستاسې

ملګري ته يې ورکړئ.

-- هرڅومره ډېره ګانه چې څوک په ځان

واچوي. همغومره ځان بدرنګه کوي.

-- تاسې چې هر څه لرئ، يوه ورځ به هغه

ورکړل شي، له دې امله يې اوس ورکړئ،

دا چې ستاسو د ورکړې وخت دی او نه

ستاسو د پاتو.

-- سړی وايي، چې څوک بايد يو بيده غلام

راويښ نه کړي، ښايي هغه د ازادۍ خوب

وګوري. د ې ته زه ځواب ورکوم، چې

سړی دې هغه راويښ کړي، چې د د ده

سره په ازادۍ خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- سړی دې نه هېوی، چې د سمڅو خلک هم شته، او سمڅې د موږ زړونه دي.

-- دموږ پټې اوښکې هیحکله هم د موږ سترګې نه ګوري.

-- د ودې تاریخ نوې دوران به هلته را شي، چې انسان خپل خپلوان په خپلو منځونو کې دروغ وګڼي- داسې، لکه موږ چې د بیزو ګانو سره خپلوي نه پېژنو.

-- له موږ څخه زیات مو ناداړه ( بې زړه) ځانونه د ګونکې تکیې او توانمند جګغږ ځان ټیټونې کې خوزو.

-- له هغه څخه مې لرې ساتی، چې وایي:
زه هغه رڼا یم، کومه چې انسانانو ته لار ښایي، خو ما هغو ته ورولی، کوم چې خپله لار د انسانان په رڼا کې دننه لټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- مینه د دوه مینو په منځ کې زړوکی دی.

--دوي په مینه دغوښتلو شیدو سره نږدې

کیږي. که مور په دې پوهېدی، چې دما

د زوکړې له ورځې څخه د داسې خوراک

غوځ یاپرې ( بې اموخته) شوی یم.

-- یو میندلی کوچنی له خپلې مور څخه په هیلو

او مینه اخستل شوی او په ډار او دمرګ له ډار

سره زیږېدلی. په زړه کې د ژوند د پاتې مینې

سره یې د یتیمانو خونې مخ ته کښېښود او ترې

پټه شوه، په داسې حال کې چې د هغې ستې ځان

ستونځمنې اړتیا ته تیټ کړ. د دې لپاره چې خپله

بدبختي پوره کړي، دا به له مور څخه لا ونازول

شي. ،، دا کومه بې شرمي ده! دا څنګه بې شرمه!،،

-- په بری پسې په کلکه هڅېدل ( ځان ته

غوښتنه) هم د کار یو هېنه ده.

-- مور لا تراوسه له دې سره بوخت یو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې صدفونه وګورو، ایا دا به هرڅه وي،
چې د ژوند بحيره يې موږ ته غاړې ته
شپه او ورځ راغړوي.

-- ټول هغه څه چې زه يې پهدې نړۍ ګورم،
اورم، حس کوم او باور ( عقيده) پرې لرم،
د ما په خپل زړه کې ميندل کيږي.

-- د ما ښوونتوان دا نه پوهېدوني ( نا پوه
لږ راته ستوغ بريښي) باوري کوي، او
هوښيارو دلايل ما باوري کي. خو هغوي
چې نه هوښيار او بې عقله دي نه شم ور
ښوولی او هغه ما ته هم څه نه شي ښولی.

-- هکپکونکې ده، چې د ما دا رښتينوال ما ته
پرته له شرم څخه بل څه نه راوړي، په داسې
حال کې چې هغه په ما کې بد وما ته ګټور
تماميږي. زه به نو له دې څه ورزيات لا نور
هم د ماپه رښتينوالي ودرېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- مور ځان ته دمور  خوښي او درد لټوو، له

هغې څخه د مخه چې په مور تېرېږي.

-- ستاسې زړونه په چپتیا کې د ورځې او د

شپې په پټتیایا پتیاوې کې پېژندي، خو

ستاسې غوږونه ستاسو په زړه کې د

پوهېدنې غږونو ته تږي دي. تاسو

غواړئ په وییونو یې وپوهېږئ، څه چې

تاسو په فکر کې تل پرې پوهېدئ.

-- هغه څه چې په کوچنیتوب کې چا ته ګران وو،

هغه په زړښت کې د زړه په واکوالي کې دي.

--دا هغه څه، چې زړه باور په لري، تیک

هغه څه نه دي لکه دغه، هغه چې سترګې

یې ګوري؟

-- که ځانله یواځې سم اند یا منطق په واک

کې وي، دا یو راتنګ توان دی.

-- ښکلا تلوالی دی، چې هغه ځان پخپله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنداره کې ګوري.

-- انسانیت د رڼا یو خوږ دی، هغه چې له

پایوالي و تلوالي ته بهیږي.

-- مینه د رڼا (نور) یو ویي دی، د رڼا له یوه لاس

سره لیکل شوی، د رڼا(نور) په یوه اړخ.

-- لکه چې تخم، هغه چې د واورو د بړست

لاندې خوبونه ګوري، همداسې ستاسې زړونه

پسرلي خوبونه ګوري. دې خوبونو باندې باور

ولرئ، ځکه چې په دوي کې و ناپای ته دړه پټه ده.

-- که ته ګرنګونه ګورې، نو غره تهپورته شه. که

ته د غره سرونه غواړې وګورې، ورېځو ته

پورته شه. که ته غواړې په ورېځو وپوهیږې،

سترګې پټې کړه او فکر پسې وکړه.

-- ښکلا هغه پټیا ده، چې دموږ اروا پرېپوهیږي،

په دې کې چې هغه وګوري او د هغې د اغیز

لاندې ځان خور ور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- ځان هلته ناخوښ بولم یا حس کوم، چې کله
مې تس لاسونه د انسانانو په لور وغزوم او
څه لاس ته رانه شي. خو پوره ناهیلی هلته
یم، چې کله د ما ډک لاس وغزوم، او څوک
نه راځي، چې دا واخلي.

-- زه مطلقه رښتیا نه پېژنم، خو زه د ما ناپوهی
ته په عاجزۍ مخا مخ ولاړ یم، او په دې کې دما
درنښت او دما سوغات پروت دی.

--غوره خبرې تر هغې پورې بې پرېپوهېدنې
دي، تر څو چې دا اموخت نه شي.

-- که د دوه چټي شیانو په منځ کې یو باید وټاکې،
نو پمینه هغه واخله، چې څرګند دی و دې پټ
ته ، که د دې بل څخه درته ستر هم برېښي

-- خواشني یواځې د دوهباغونو په منځ کې
دیوال دی.

-- د پرون خرڅلاو و ازمایه، او ته به وګورې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ته د انساناو او د ژوند پوروړی يې.

-- اړتيا يوه هنداره ده، په کومه کې چې
ځوک پوره اوږد وګوري، کړی شي
ومومي، چې د ده خپله خورا خوندي
ځانمرګي ځنګه کولی شي.

-- واده د دوه خدايي سپرغبو يوځای کېدل دي،
له کومې چې په ځمکه يو دريم زېږېږي.

-- هغه، کوم چې فکر لري، يوازې قناعت
راته ليکي او دا بېعقله بېعقلي. زه په دې
عقيده يم، چې دواړه په حق دي.

-- يو وخت پارلماني حکومتونه وو، د انقلاب
لاس ته راوړنه. نن دا د اقتصادي برلاسی
لاس ته راوړنه ده.

-- شاعري په زړه کې يوه لمبه ده، خو د
خبرو هنر د واورو ځپوکو ورته ده. ځنګه
اور او واورې سره يوځای کېدی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- دا بد بل څه دې و ښه ته، له خپلې ولګې

او تندې څخه زورېدلی.

-- ځنې ارواوې داسې دي لکه اسفنج. ته له

هغو څخه زیات نه شي زبېخلی، کوم چې

لتا هغه زبېخلې.

-- غلامې په دې پرېپوهېدنه، چې یو ژوند د اروا

له لارې ژوندکړنه، یا دې دا ویي، دا د تن یوه

برخه شوې.

-- خیرغوښتونکی د انسانانو زړونو نږدې دی، خو

هغه مهربان د خدای په زړه کې.

-- پرهیزګاره او ګوناه کار غبرګوني ورونه

دي، پلار يې دموږ مهربانه باچا دی.

-- ښکلا د نر او د ښځې په منځ کې له یو بل

سره منل دي، چې په یوه سترګو رپ کې

پېښیږي، په یواځې یوه ثانیه کې کېدی شي

دا احساس رامنځ ته شي، چې له ټولو احسا-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتو جګ وي. او دا اروايي احساس هغه دی،

چې موږ یې ګرانښت بولو.

-- ډېره خوښي يو اورغرځونکی غر دی، چې

هیڅ کله یې په څوکه د ډېل واخه نه شنه کیږي.

-- له شیطان څخه وېره یوه لار ده، هغه چې په

خدای(ج) شکمن کېدل دي.

-- ګرانښت یا مینه د خوښی لږځېدل دي.

-- هر تخم په خپل دننه کې يو لیدنغوښتنه

( د بېرته یوځای کېدو غوښتنه) خوندي لري.

-- ځنې په درد کې خوښي مومي، او ځنې کړی

شي یواځې له ناولتوب سره پاک کړي.

-- په یادونو کې پوله نه شته، یواځې په هېرېدلو

کې يو درځ پروت دی، چې ستاسې غږ او

ستاسې سترګې ترې نه شي تېرېدلی.

-- انسانیت خدایي ورکړه ده، دباندې وېشل شوې

او په دننه کې یوځای شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- پرون مو لا د باچيان اوربدل اوسرونه واکوالو

ته ټيټول. نن موږ يواځې ربنتياو ته سرونه ټيټوو.

-- د انسان د سترګو په ګاټو کې نړۍ ستره

بربښي، و هغې ته چې دا ده.

-- ما چې له خپلې اروا وپوښتل، چې تلوالي د غوښتنو

سره څه کوي، چې موږ يې راټولوو، نو هغې ځواب

راکړ: زه تلوالی يم.

-- انسان دوه برخې لري: دايو يې په تياره کې

بيدار وي، او دابل يې په رڼاه کې بيديږي.

-- ځواني وزرونه لري، چې ښکې يې شعرونه او

اعصاب يې خيالپلو دي.

-- د هوښيار او ليونې په منځکې واټن له دې

کم دی لکه د غنبچال پنډوالی.

-- ګرانښت، چې هره ورځ ځان نه نوی کوي،

اموخت کيږي او بيا غلامي.

-- له تيارې يوه رڼا راغله او دما لار يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانه کړه.

-- خدای(ج) رښتیاو ته ډېرې دړې پرېښودي، چې

د هرې عقیدې خاند ته ښه راغلاست وواي، څنګه

چې یې وټکوي.

-- لیونیان هغه دي، چې د ځان عباده کوي،

ځکه چې دوي د یوې مردارې څخه بل څه

ته درنښت نه کوي.

-- د دوزخ میوه پخپله دوزخ دی، او د جنت پسې

لیدغوښتنه، پخپله جنت دی.

-- ردول د هوښیارتیا هغه ټیټه بڼه ده.

-- ولې ته خلکو پاچا کړې، یوه لغړونکي یا

څرګندونکي غوښته و پوهیږي.

باچاځواب ورکړ: ځکه چې زه په دې ځمکه یا

هیواد کې اصیل سړی یم، دوي زه باچا کړم. او

دې روښانونکی ځواب ورکړ: او که ته نور هم

اصیل وی، نو باچا به نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- غلامي د باچاهانو ناسمون دی.

د خلیل جبران ژوند:

لسم د اپریل ۱۹۳۱ کې ۴۸ کلن.

یو لیبنانی- امریکنی، رسام،، فیلفوسوف او شاعر وو

**لیوپولد رانکې**

— **Leopold von Ranke**

# د ډاکتر ماخان میرې شینواري کتابونو ته کتنه

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې ځلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې ریښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ویونه لیکلي.( دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په دري کتابونو کې یې فزیک هم په پښتو لیکلی، دا په دې مانا، چې پوهنیز او مسلکي ویونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو لیکوالانو د لیکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دی، لکه په دې نورو لیکنو کې هم.
ملامتي به د نومړي وي، خو وایي، چې کړنې یې د ژبلار سره سمې او سم انديزې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ژبسمون، چې بیا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ویونه د څېړنې لاندې نیولي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

۴-دوه کتابونه ۴ ۱ – پښتو ژبلار د ښوونځې لپاره به په لنډ وخت کې خوره او

۴ ۲ – د ژبې په چوپړ کي به هم لنډو ورځو کې ستاسو لوستلو ته وړاندې شي.

۵ – دوهکنتبونه د غوره خبرو

ټول ځلور پنځوس کتابونه.

زما زیاتې لیکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زیات یې د تاند په خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

او کتابونه په کتابتون.کوم کې خوریږي، چې هلته یې بیا د کتاب په بڼه لوستلی شی.

# د ډاکتر ماخام مېړي شینواري لیکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان شینواري چاپ او ناچاپ لیکنې، چې هغه زیاته برخه یې له ketabton.com څخه خواره شوې:

<u>:(Vienna (Austria 1988</u>

<u>لومړی:</u>

topological Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact .H.K Page 117 – 122 ; general algebra 6 algebra : contributions to

<u>:(Vienna (Austria 1987</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم:

لومړی-Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Algebren . Diss . Uni. Wien

دویم-Interpolation and Aproximation by Polynome in universal Algebras, Dissertation at the University of Vienna/Austria

لاندې د شمیرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي
:(Bonn (Germany 2000

دریم: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې ځنو ځایونو غزېدلې او ځنې ځایونه ترې لرې شوي دي)
:(Bonn (Germany 2003

څلورم: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د ګټې – او کټې د کټې شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي
:(Bonn (Germany 2003

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

شپږم: د شمیرپوهنې انګریزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

اووم: د شمیرپوهنې الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*
:(Bonn (Germany 2003

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



*equation Translation; An Introduction Differential*
Germany): 2003) Bonn

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه
*Formulas Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:(Bonn (Germany 1997

یوولسم: د افغانستان په هکله سپیني خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلي.

ژباړې او نورې لیکنې:

: *(Brinkmann. (From Brinkmann.du.de .Prof*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموینې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولسم – انالیزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – کربنیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شمیرپوهنې بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

یوېشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:com ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرویشتم – له www/grundstudium.info/linearealgebra. څخه:کربنیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunner ګڼونپوهنه یا د اعدادو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

زما لیکنې
:(Germany) Bonn

شپږویشتم - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلې ( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ویشتم - ځمکګچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ویشتم – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبرشم - ډېرى پوهنه يا سټ تيوري ( ketabton:com ته پورته شوى)

يودېرشم – د شميرپوهنې سم اند ( منطق رياضي) ( ketabton:com ته پورته شوى)

دوه دېرشم - د يو څو شميرپوهانو ژوندليک( ketabton:com ته پورته شوى)

دريدېرشم – د شمير پوهنې ګډې وډې ليکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو ليکونکى يې متآسفانه راڅخه نابلد شوى: د مشتق او انتيګرال شميرنو ته تمرينونه او اوبيونې يا حلونه يې( ketabton:com ته پورته شوى)

پنځه دېرشم – د شميرپوهنې انګريزۍ پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شميرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوى)

اوه دېرشم – د شميرپوهنې پښتو ډکشنري د شميرپوهنيزو وييونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوى)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه ليکنې دي، چې ځنې يې په نړيول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپينې خبرې، چې وبه غزيږي.

څلوېښتم– د ښتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د ښتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپريږي: د ګروپونو تيوري( ketabton:com ته پورته شوى)

- د ښوونځي لپاره فزيک د برينکمن ليکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوى ( دا چې زما دويم مسلک فزيک دى، دا ليکنې ژباړم. دا هم د دې ليکوال يوه ډېره ښه ليکنه ده، چې -د شميرپوهنې په څير- دلته هم زيات تمرينونه د حل يا اوبيونې سره په کې راغلي او ماته زيات ګټور برېښي) او دالاندې د برينکن څخه راژباړلي

يوڅلوېښتم - فزيک لومړىبرخه ( ketabton:com ته پورته شوى)

دوه څلوېښتم – فزيک دويمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوى)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریڅلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي هم دي.( ketabton:com ته پورته شوی)

څلورڅلوېښتم – د فزیک کوچنۍ ویونو دکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه څلوېښتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton.com ته پورته شوی)

شپږڅلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) ( ketabton.com ته پورته شوی)

اوه څلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب ( ketabton.com ته پورته شوی)

اته څلوېشتم – ژبسمون ( که غوارۍ دویم غزېدلې لیکنه) : له پخوانۍ لیکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.( ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خورېږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه څېړل شوي ناسمونونو ته ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیې لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه څلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰( ketabton.com ته پورته شوی)

پنځوسم – ژبې مرې او نورې لیکنې ۲۰۲۰ ( ketabton.com ته پورته شوی)

دا اوس خورنې ته چمتو: هیله ده چې کتابتون.کوم ( ketabton.com ته پورته شوی) کې یې وکتلی شئ

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره. همدا کتاب

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

درېپنځوسم- د نړۍ هوښیارتیاوې.

څلورپنځوسم – د جبران خلیل غوره خبرې . همدا کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډاکتر ماخان میرﮮ شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل یې نوم ،،میرﮮ،، وو. د رحمابابا لیسه کې نوملیکلو وروسته په ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: اروابښاد نورالرحمان

د مور نوم: اروابښاده پستو

د نیکه نوم: اروابښاد حسن خان

د نیا نوم: اروابښاده صبره بي بي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دئ ( دا خو هغه رسمي ز ک دئ. سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دئ)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زیږېدلی.

د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځې هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کلیوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ته تګ.

۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ دمارچ لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوریت سفارت کې د سفیر دندې د شارژد افیر( صفر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداېښتي پوهنو څانګه کې دنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د رياضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شينواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو ليکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان ميرمن په ۱۹۷۲ کې له لرې د ميرمن ښاپيرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتريش ويانا ته ورغلی.

ده د ميرمن ښاپيرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي ځښتن په اتريش ويانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچيان وبخښل، چې ځانګه او اباسين نوميږي. ځانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسين ملي اقتصاد او ټولنيزه سايکولوژي لوستلې.

ډاکتر شينواري ته د پوهنيزو هلو ځلو له امله ستاينليکونه:

۱ ـــ د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ ـــ د افغانستان کلتوري ټولنه کولن ميشنيش. جرمني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**